دا پروژه د اروپايي ټولنې لخوا تمويلېږي

# ايا غواړئ چي خپل کور ته ستانه شئ؟

ايا تاسي يو کډوال هستئ چي غواړئ خپل کور ته ستانه شئ خو ددئ امکان نلرئ؟

## د کډوالو نړيوال سازمان ( İOM ) کولئ شي چې تاسې سره مرسته وکړي

**په داوطلبه توګه د بيرته ستنيدو او له سره د يو ځای کيدو سره مرستي پروګرام (AVRR )**

پروګرامونه د هغه کډوالو سره چي خپلو هيوادونو ته د ستنيدو پريکړه کړي وي او نه غواړي چي په کوربه هيواد او يا ترانزيت هيواد کې پاتې شي اداري، لوژستيک او مالي مرستې برابروي او په بعضو حالاتو کې د ستنيدو نه وروسته هم د هغوی سره د له سره د يو ځای کيدو په برخه کې هم مرسته کوي.

PEŞTUNCA

**د کډوالو د نړيوال سازمان ( İOM )**
**خدمات او مرستې ټولې وړيا دي. په هيڅ**
**شي پيسو ورکولو ته اړ نه ياست.**


د لا زياتو معلوماتو لپاره

برېښنا ليک : iom-istanbul-avrr@iom.int

تيليفون : ۰۲۱۲۹۳۹۸۱۲۱


IOM UN MIGRATION

CFCU 20 years
REPUBLIC OF TÜRKIYE MINISTRY OF TREASURY AND FINANCE CENTRAL FINANCE & CONTRACTS UNIT

T.C. İÇİŞLERİ BAKANLIĞI GÖÇ İDARESİ BAŞKANLIĞI

IOM UN MIGRATION

دا خپرونه د اروپايي ټولنې په مالي مرسته چمتو شوې.
د محتوياتو مسئوليت يي يواځې په ترکيه کې د کډوالو نړيوال سازمان لري
او کيدای شي چې د اروپايي ټولنې نظريات منعکس نکړي.

## د کډوالو نړیوال سازمان ( İOM )
## کولی شي چې تاسې سره مرسته وکړي



که چیرې د ویزې وخت مو ختم وي



په ترکیه کې د قانوني اسنادو پرته ژوند کوئ



سره ددې چې غواړی کورته ستانه شی خو امکانات نلرئ

## ګامونه څه دي؟



**۱ – د کډوالو نړیوال سازمان ته مراجعه وکړی :** که چیرې د ډیپورت په مرکز کې یاست د مرکز مسئولینو ته خبر ورکړی چې غواړی په داوطلبانه توګه خپل هیواد ته ستانه شی.



**۲ - تصمیم ستاسې پورې اړه لري:** مونږ په خپل مخکې د تولو انتخابونو په اړه تاسې ته په کامله توګه د معلوماتو درکولو نه وروسته ، تاسې سره څه ډول مرسته کولی شو په اړه معلومات درکوو.



**۳ - په داوطلبه توګه د بیرته ستنیدو او له سره د یو ځای کیدو سره مرستي پروګرام غوښتلیک :** کډوالو نړیوال سازمان ( iom ) د خپل هیواد د سفارت او یا قونسلګری نه څه ډول کولی شی چې د سیاحت سند ترلاسه کړی په اړه تاسې ته معلومات درکول کیږي. د ارتیا په صورت کې iom د اسنادو د اخیستو د غوښتنلیک د پروسې پر مهال تاسې سره مرسته کوي.

خو د خپل هویت او د وګریتوب د په اثبات رسولو په ګډون مراجعه کول ستاسې مسئولیت دی.
که چیرې د روغتیایي پلوه کومه ستونزه ولری مهرباني وکړی د کډوالو نړیوال سازمان ته خبر ورکړی تر څو تاسې سره په خوندي سفر کې مرسته وکړي.



**٤ - د سیاحت پلان :** ستاسې د غوښتنلیک د منل کیدو نه وروسته د کډوالی نړیوال سازمان په داوطلبانه توګه کور ته د ستنیدو اړوند د سفر د پلان په جوړولو کې تاسې سره مرسته کوي د الوتنې نه مخکې، د الوتنې پر مهال او وروسته ستاسې سره مرسته کوي.



**٥ – کورته رسیدل :** د کډوالی نړیوال سازمان د ارتیا په صورت کې تاسې سره د معلوماتو او مرستې اخیستو په برخه کې مرسته وکړي.

په داوطلبه توګه د بیرته ستنیدو او له سره د یو ځای کیدو سره مرستي پروګرام
( AVRR ) په کامله توګه داوطلبانه دی.
د کډوالو نړیوال سازمان یو خپلواکه نړیوال موسسه ده.
د کډوالو نړیوال سازمان تاسې سره یواځې او یواځې په خپله خوښه هیواد ته د ستنیدو په برخه کې مرسته کوي

## د کډوالو نړیوال سازمان( İOM )
## څه کولی شي :

تاسې ته د ستنیدو په اړه معلومات درکوي.
د سیاحت د سند د اخیستو په برخه کې تاسې سره مرسته کوي.
ستاسې د سفر پروګرام جوړوي.
د ارتیا په صورت کې طبي مرسته چمتو کوي
د ستنیدو نه مخکې، د ستنیدو پر مهال او وروسته مرسته کوي
هیواد ته د ستنیدو نه وروسته هم درسره مرسته کوي